# د ښوونې او روزنې بورډ غونډو کې عامه ګډون

## عمومي شرایط

د ښوونې او روزنې بورډ عامه ګډون ته ارزښت ورکوي او د هغو مسایلو په اړه چې په ټولنه، د ښوونې او روزنې په بورډ او په البرقي عامه ښوونځیو اغېز کوي د عامه نظرونو او وړاندیزونو ارزښت پېژني. د طرزالعمل دا لارښود د نورو مهمو اهدافو سره د عامه ګډون ارزښت انډول کولو لپاره خپلول شوی، په شمول ولې محدود ندی:

- باوري کول چې د ټولنې ټول غړي بورډ ته د خپل نظرونو څرګندلو لپاره یو مناسب فرصت لري
- د بورډ کارونه په اغېزمنه، مؤثره او منظم ډول بشپړول
- د بورډ د غړو، ولسوالۍ کارمندانو، زده کوونکو او اورېدونکو حقونو ته درناوی کول

تمه کېږي چې د ښوونې او روزنې بورډ په ټولو عامه غونډو کې مناسب نظم او د دې طرزالعمل لارښود شرایط تعقیب شي.

د غونډې د اېجنډا سره سم د ښوونې او روزنې بورډ په هره پرانستې منظمه غونډه کې، عامه غړي کولی شي د ښوونې او روزنې بورډ ته د معقول محدودیتونو سره سم څرګندونې وکړي (نظرونه وړاندې کړي). کله چې د ښوونې د بورډ غونډه روانه وي، "دولت نشي کولی د منځپانګې پربنسټ وینا خارج کړي پرته لدې چې محدودیت په کلکه وځېړل شي.
[*Sandefur v. Vill. of Hanover Park, Ill.*, 862 F. Supp. 2d 840 په 846 (N.D. Ill. 2012)] په هر صورت، د ښوونې او روزنې بورډ ته اجازه ورکړل شوې "د وخت، ځای او نظم معقول محدودیتونه پلې کړي پدې شرط چې محتویات (منځپانګې) یې بې طرفه وي، دوی د پام وړ دولتي ګټو د خدمت لپاره سره نږدې ځای په ځای کړی شوي (یعنې د امکان تر بریده لږ محدودیتونه ځاي په ځای کړل شوي) او د اړیکو کافي نور بدیل چېنلونه شتون لري." [*Sandefur*, 862 F. Supp. 2d 840 په 846؛ *وارډ وي راک د نژاد پرستۍ پر ضد، 491 U.S.* په 791] د دغو محدودیتونو شاته لامل دا دی چې "د عامه غونډو منظم چلند ګډوډول په حقیقت کې یو له اصلي بدیو څخه دی چې دولت یې د مخنیوي حق لري. "
[*Collinson v. Gott*, 895 F.2d 994, 1000 (4th Cir.1990)]

که څه هم یو عمومي عمل ندی، عامه تبصرې ته، چې د معقولو محدودیتونو تابع ده، ممکن د کمېټۍ د مشر په اختیار د ښوونې او روزنې بورډ په ځانګړې یا کمېټۍ غونډه کې اجازه ورکړل شي.

د نظم، آداب او عامه تبصرې په اړه د ښوونې او روزنې بورډ محدودیتونه د دې طرزالعمل په لارښود کې په ګوته شوي.

د عامه تبصرې لپاره نوم لیکنه (ځان ثبتول) د ښوونې او روزنې بورډ د منظمې غونډې په ورځ سهار 8:00 بجې پېلېږي او د بورډ د غونډې پېل سره سمدستي پای ته رسېږي. د عامه تبصرې نوم لیکنه د یو انلاین فورم له لارې د غونډې دواړو شخصي او مجازي (د انټرنېټ لا لارې) مېلمنو لپاره وړاندېز کېږي. هغه مېلمانه چې د انلاین نوم لیکنې لپاره مرستې ته اړتیا لري کولی شي د غونډې د پېل نه وړاندې په شخصي ډول راشي. پداسې شرایطو کې چې عذر شتون ولري، د ښوونې او روزنې بورډ د خدماتو دفتر کارمند ممکن د یو شخص چې غواړي وینا وکړي په استازیتوب نوم لیکنه وکړي.

د عامه تبصرې وخت به د ښوونې او روزنې بورډ هرې منظمې غونډې په سر تر 45 دقیقو پورې محدود وي. د بورډ رییس، یا مشري کونکې مدیر، به دا حق ولري چې هغو کسانو لپاره چې غواړي بورډ لپاره تبصره چمتو کړي د وینا وخت محدود کړي چې هر یو لپاره تر (2) دقیقو څخه زیات نه وي. د هغو کسانو د شمېر په اساس چې د عامه تبصرې د مودې په جریان کې یې وینا لپاره نوم لیکنه کړې، د بورډ رییس، یا مشري کونکی مدیر، ممکن د هر یو کس لپاره ورکړل شوی وخت لنډ کړي تر څو د زیاتو وینا والو اورېدلو ته اجازه ورکړل شي. پېژندل شوي وینا وال باید خپل وخت نورو ته انتقال یا ورنکړي. که وینا کونکې، نارینه/ښځینه، د پېژندنې په وخت د غونډې خونه کې موجود نه وي، نو وینا کونکی به خپل د وینا فرصت د لاسه ورکړي او بل کس ته خپل وخت ورکولو څخه منع شي. ډلې چې غواړي خپل نظرونه څرګند کړي باید بورډ

ته د خپلو نظرونو وړاندې کولو لپاره یو وېنا وال وټاکي. کله چې د بورډ رییس یا مشري کونکي مدیر په قضاوت کې، داسې ښکاره شي چې:

- د اورېدونکو څو غړي غواړي ورته یا یو شان نظرونه څرګند کړي، د بورډ رییس یا مشري کونکی مدیر ممکن بورډ ته د وینا لپآره د هغوئ څخه د ډلې په استازیتوب یو کس وپېژني؛ یا
- یو وېنا وال نظرونه تکراروي چې هغې، نارینه یا ښځینه، یا کوم بل وینا وال له وړاندې څرګند کړي وي؛ د بورډ رییس یا مشري کونکی مدیر ممکن د دغې وینا وال د وخت له ختمېدو وړاندې بل وېنا وال وپېژني.

## د ښوونې او روزنې بورډ د غړي آداب

د نیو میکسیکو د پرانستو غونډو قانون د بورډ د غړو تر منځ د هر یو هغه شي په اړه د خلاص بحث څخه منع کوي چې د ښوونې او روزنې بورډ د غونډې په اجنډا کې لېست شوی نه وي. له همدې امله، د ښوونې او روزنې بورډ باید عامه تبصرو ته د ښوونې او روزنې بورډ د غونډې ګډون کونکو د نظرونو د اورېدو د وخت په توګه وګوري. عامه تبصره باید د وېنا وال سره د خلاصو خبرو اترو وخت نه وي. عامه تبصره باید د بورډ غړو لپاره هغو پوښتنو ته د ځواب ورکولو چې یو وېنا وال یې پورته کوي یا د یو وېناوال د اندېښنو په اړه د نظر ورکولو وخت نه وي.

که د بورډ غړی غوره کوي، هغه نارینه/ښځینه کولی شي هغه وخت د بورډ غړو راپورونو په جریان کې د وېنا والو اندېښنو ته ځواب ووایي کله چې د بورډ غړي راپورونه د غونډې په اجنډا کې څرګند شي.

## د وېناوال آداب

وېناوال باېد خپل نظرونه بورډ ته راجع کړي او نه د ولسوالۍ کارمندانو یا نور اورېدونکو غړو ته. وېناوال باید د بورډ غړو نه تمه ونکړي چې سوالونه به د عامه تبصرې په جریان کې ځواب کړي. پوښتنې باید د بیاکتنې، مطالعې او غبرګون لپاره سرپرست یا د هغې لخوا ټاکل شوي، نارینه/ښځینه، کس ته راجع شي. که مناسب وي، بورډ کولی شي غوښتنه وکړي چې دا مسله د د ښوونې او روزنې بورډ په راتلونکې غونډې کې د بحث توکه وګرځي.

هغه کسان چې بورډ ته وړاندې کېږي باید دغه لارښونې تعقیب کړي:

- د ښوونې او روزنې غونډې د پیل څخه د مخه په عامه تبصره کې د ګډون لپاره د وینا کولو په موخه نوم لیکنه وکړي او پوه شي چې د وېنا کولو امتیاز د لومړي راشئ، لومړی خدمت تر لاسه کړئ پر بنسټ ټاکل کېږي.
- که وېناوال غواړي د بورډ غړو ته اسناد وویشي، نو وېناوال باید د ولسوالۍ کارمند ته چې د عامه غونډو د نوم لیکنې مسؤل دی د وېنا لپاره د نوم لیکنې پر مهال د اسنادو (9) نقلونه وسپاري.
- بورډ ته وېنا یواځې په مناسب وخت وکړي لکه څنګه چې په اجنډا کې په ګوته شوی یا د بورډ رییس یا مشري کونکي مدیر لخوا پېژندل شوی.
- د پوسټرونو(په عامه ځایونو کې د اعلان په توګه ځړول شوي نښه)، بېنرونو (د ټوکر یا کاغذ اوږده پټه چې د اعلاناتو لپاره کارول کېږي) یا نورو توکو کارول ممکن په عومي توګه د منلو وړ وي. په هر صورت، کچېرې دا ډول توکي، د بورډ رییس یا مشري کونکي مدیر په اختیار کې، د غونډې بهیر ګډوډوي، د خوندیتوب اندېښنه رامنځته کوي، یا د غونډې د نورو اورېدنکو غړو یا د هغه کمرې چې د بهیر ویب کاسټ (د انټرنیټ په لیکه بهیر وړاندې کول) لپاره کارول کېږي غونډې د لید مخه نیسي، د بورډ رییس کولی شي له وېناوالو او اورېدنکو غړو څخه غوښتنه وکړي چې د کارولو څخه یې ډډه وکړي.
- خپل ځان ور وپېژني او د هر انفرادي وېناوال لپاره د ورکړل شوي وخت دننه خپله وېنا وکړي.
- د بورډ رییس یا مشري کونکي مدیر پرېکړې ته پام او درناوی وکړي تر څو د وخت خوندي کولو لپاره عامه تبصره لنډه او د کسانو اعظمي شمېر ته د وېنا کولو فرصت ورکړل شي.

- ځېل ځان مسؤلیت، مدنیت، احترام او لازم درناوي سره ښکاره کړي. د وېناوال چلند باید په یو APS ښوونځي کې د د لیدونکو د متوقع (تمه شوي) چلند سره هیڅ توپیر ونلري، لکه څنګه چې لاندې وېل شوي:
  - د ښوونځي په ملکیت یا د ښوونځي په کومه پېښه کې هیڅ څوک باید یو له لاندې عملونه ترسره نکړي:
    - د زده کونکو او کارمندانو لپاره د زده کړې بهیر ګډوډول
    - د یو زده کونکي، د کارمندانو غړي، د بورډ یو غړي، یا د ښوونځي د ملکیت کوم بل لیدونکي وهل، ټپي کول، ګواښول، ځورول یا ډارول
    - د یو غېر سپورتي کس په ځېر چلند کول یا فحش او ناوړه ژبه کارول
    - پرته لدې چې د دولت د قانون له مخې ورته ځانګړي اجازه ورکړل شوې وي، وسله ولري، یو داسې شی چې په معقوله بڼه وسله ګڼلی شي یا د وسلې یا کومې خطرناکې آلې په ځېر ښکاره شي
    - د بل چا ملکیت ته زیان رسول یا د زیان رسولو ګواښ کول
    - د ښوونځي ملکیت زیانمن کول یا خرابول
- دغې حقیقت ته درناوی وکړي چې د وېناوالو نظرونه او تبصرې به ممکن د ټولو حاضر کسانو لخوا شریک نشي.
- په یاد کې ونیسي چې وېناوال باید د سرپرست یا د بورډ غړو چې د دوی دفترونو یا دندو پورې تړاو نلري په وړاندې هغه شکایتونه څرګند نکړي چې د دندو پورې یې اړه ونلري
- د ښوونې او روزنې بورډ وېناوال هڅوي چې د اندېښنو په موضوعاتو تمرکز ونکړي نه په اشخاصو چې دوی یې مسؤل بولي. بورډ به د ښوونې او روزنې په هر یو منظمه غونډه کې وېناوال د ولسوالۍ یو کارمنه ته لېږي څوک چې به ممکن د دوی هغه مشخض شخصي شکایتونه واوري کوم چې به سرپرست، یا د هغې ټاکل شوي کس، نارینه/ښځینه، ته د بیاکتنې، مطالعې او ځواب لپاره راجع کېږي.

یوازې هغه وېناوال چې د وېناوال د ادابو شرایط مني او اطاعت یې کوي ته به اجازه ورکول کېږي چې د ښوونې او روزنې بورډ عامه تبصرې په جریان کې وېنا وکړي. د وېناوال د آدابو شرایطو د منلو او لاسلیک کولو لپاره به یو فورم وړاندې کړل شي. فورم به دغه غوښتنې (اړتیاوې) په ګوته کړي. هغه کسان به د عامه تبصرې پر مهال د وېنا کولو څخه منع شي چې د منلو (اعتراف کولو) چمتو شوي فورم لاسلیک کولو یا د غوښتل شوو معلوماتو بشپړولو څخه انکار کوي.

## د اورېدنکو آداب

اورېدونکي غړي باید ځېل چلند په همغه بڼه برابر کړي لکه څنګه چې د انفرادي وېناوالو لپاره پورته په ګوته شوی دی. اورېدونکي غړي باید د ښوونې او روزنې بورډ خلاص عامه غونډه ګډه وډه نکړي او نور هم د داسې کولو لپاره ونه هڅوي. له همدې امله، د اورېدونکو غړو لخوا موافق کېدو سخت یا بې احترامانه څرګندونې یا اختلاف باید نامناسب وګڼل شي او د بورډ رییس یا د مشري کونکي مدیر لخوا د مقرراتو تابع وي.

د اورېدونکو ټول غړي باید په چوکیو ناست پاتې شي تر څو د بورډ رییس یا د مشري کونکي مدیر لخوا وپېژندل شي.

## د مېډیا (رسنۍ) آداب

د رسنیو غړو ته د ښوونې او روزنې بورډ په عامه غونډو کې ښه راغلاست وېل کېږي. د رسنیو غړي او تجهیزات باید په هغه خونه کې چې د ښوونې او روزنې بورډ غونډه پکې ترسره کېږي د رسنیو د استازو لپاره ټاکل شوي ساحې څخه د غونډې ویډیو او عکس واخلي. د رسنیو استازي باید د ولسوالۍ کارمندانو سره د تجهیزاتو ځای په ځای کولو، عکس اخستنې او ویډیو اړتیاو په اړه همکاري وکړي یا به د غونډې څخه د ویستلو مجاز وګرځي.

## د مناسبو آدابو پلي کول

د بورډ رییس یا مشري کونکی مدیر مسؤل دي باوري کړي چې عامه ګډون او تبصره بورډ سره د خپل مسؤلیتونو په اجرا کولو کې مرسته کوي او د طرزالعمل لاربنود سره سم ترسره کېږي. نو ځکه، د بورډ رییس یا مشري کونکی مدیر باید د دغه طرزالعمل لاربنود پلي کولو واک ولري په:

- اورېدونکو غړو او وېناوالو ته د دغي طرزالعمل لاربنود یادوني لپاره په پرېزنټېشنو او تبصرو کي مداخله کولو سره
- د مخکي نه د پېژندل شوو وېناوالو وېنا وخت لخوه کولو یا پای ته رسولو سره ځوک چې د دغي طرزالعمل لاربنود نه سرغړونه کوي
- وېناوالو یا اوریدونکو غړو نه غوښتنه کول چې له غونډې لاړ شي کچېرې دوی د طرزالعمل لاربنود نه پداسي شکل سرغړونه کوي کوم چې د بورډ کارونو ته زیان رسوي
- د وېناوال یا اورېدونکي د چلند له کبله کوم چې د دغي طرزالعمل لاربنود نه سرغړونه وي د غونډې ځنډول یا رخصتول
- د هغو وېناوالو یا اورېدونکو غړو په لرې کولو کې ځوک چې د غوښتني په وخت کې د غونډې د پرېښودو نه انکار کوي د قانون پلي کونکې مدیرانو نه د مرستي غوښتنه کول
- کسان چې دغه د طرزالعمل لاربنود نه سرغړونه کوي ممکن د جنايي تورونو لاندې راشي او ممکن راتلونکو غونډو څخه منع شي
- د یو وېناوال یا د اورېدونکو غړي چې د طرزالعمل لاربنود نه یې سرغړونه کړې وي د NMSA 1978 §30-13-1 سره سم نیول یا پر وړاندې یې جنايي تورونه ثبتول
    - NMSA 1978 §30-13-1 وايي چې "د کوم قانوني کار لپاره د خلکو راټوله شوې غونډې ګډوډ کول" یو کوچنی بد عمل دی

## د ښووني او روزني بورډ په مجازي (د انټرنيټ لا لارې) غونډو کې عامه تبصره

په بېړني حالتونو کې، د ښووني او روزني بورډ ممکن د بورډ او د کمیټي غونډو کمولو، لخوه کولو او/یا یوځای کولو ته اړتیا ولري. د بېړني حالتونو په جریان کې، د اېجندا توکي به د هغو شیانو پورې چې عاجل ګڼل کېږي یا هغو پورې چې د ولسوالی کارونو اجرا کولو/ ورته ادامه ورکولو لپاره فعالیت ته اړتیا ولري محدود کړل شي د بېړني حالتونو په جریان کې، د ښووني او روزني بورډ ممکن مجازي غونډو لور ته لاړ شي. عامه خلک ممکن بیا هم به یو مجازي عامه ناسته کې ګډون وکړي.

د عامه غونډې وېناوال به د یو انلاین فورم له لارې د ښووني او روزني بورډ غونډو کې د وېنا لپاره یوه غوښتنه واستوي. ټول وېناوال باید د غونډې د پیل څخه د مخه نوم لیکنه وکړي. د عامه تبصرې لپاره نوم لیکنه به دغونډې په ورځ سهار 8:00 بجي پیلیږي او د ښووني او روزني بورډ د غونډې پیل سره پای ته رسیږي. ټول وېناوال باید د خپل اصلي پېژندنې سره غونډې ته راوبلل شي او دوی باید پورته په ګوته شوي د وخت محدودیتونو او ادابو تابع اوسي.

## د عامه تبصرې چمتو کولو لپاره نور فرصتونه

د ښووني او روزني بورډ غونډه کې عامه تبصره باید د خلکو لپاره د ښووني او روزني بورډ ته د تبصره چمتو کولو لپاره یواځینی فرصت نه وي بورډ کولی شي د لیکل شوي خطونو، برېښنالیکي اړیکي او د تلیفوني زنګونو له لارې عامه نظرونه ترلاسه کړي. د ښووني او روزني بورډ د خدماتو دفتر د ټولو هغو لارو د خپرولو مسؤلیت لري چې خلک وکولی شي د بورډ غړو ته نظرونه وړاندې کړي. د بورډ غړو سره د اړیکي نیولو لارې باید د غوښتني سره او د ښووني او روزني بورډ په هره منظمه ناسته کې چمتو کړی شي.

غوښتنليکونه او بورډ ته ليکل شوي يا برېښنايي ليک بايد د بورډ ټولو غړو ته وړاندې شي. د ښوونې او روزنې بورډ د خدماتو دفتر ته اړتيا نشته هغه معلومات د بورډ غړو ته وړاندې کړي چې په مستعار ډول ترلاسه شوي دي. د ښوونې او روزنې بورډ د خدماتو دفتر کولی شي د بورډ غړو ته د معلومات چمتو کولو د مخه ترلاسه شوي معلومات، ليکونه او تبصرې لنډيز کړي.

البقرقي عامه ښوونځي حق لري د ښوونې او روزنې بورډ غونډې رسمي دقيقو (د غونډې د جريان د مهمو ټکو ليکلی رېکارډ) کې عامه تبصرې لنډيز کړي.

**اداري مقام:** د ښووني او روزني بورډ د خدماتو دفتر اجرايوي رييس

**د ځانګي مشر:** د ښووني او روزني بورډ و خدماتو متخصص

**حوالي:**

قانوني کراس رېفرنس (بل متن يا کومي برخي ته يي حواله چي د کومي نقطي د توضيح لپاره ورکول کېږي):

*Sandefur v. Vill. of Hanover Park, Ill.*, 862 F. Supp. 2d 840 at 846 (N.D. Ill. 2012)

*وارډ وي راک د نژاد پرستی پر ضد،* 491 U.S. at 781

*Collinson v. Gott*, 895 F.2d 994, 1000 (4th Cir.1990)

§30-13-1 NMSA 1978

د بورډ د پالیسی کراس رېفرنس: [د BE د ښووني او روزني بورډ غونډې]

د طرزالعمل (کړنلارې) لاربنود کراس رېفرنس:

فورمونه: [په عامه غونډو کي شریکېدل]

**د NSBA/NEPN طبقه بندي** BEDH

معرفي شوی: جون 11، 2014
بیا کتنه یي ترسره شوې: جولایي 23، 2014
تعدیل شو: آگست 6، 2014
بیا کتنه یي ترسره شوې: سپتامبر 12، 2018
تعدیل شو: سپتامبر 19، 2018
بیا کتنه یي ترسره شوې: اپرېل 15، 2020
تعدیل شو: اپرېل 15، 2020
بیا کتنه یي ترسره شوې: اپرېل 20، 2022
تعدیل شو: اپرېل 20، 2022